# بانک
د افغانستان بانك میاشتنۍ

شپاړسم کال، ۱۹۱ ګڼه، ۱۴۴۴ ذوالقعدة الحرام (۱۴۰۲ غبرګولی)




## شمال ته د افغانستان بانک د مشرتابه سفر

۱ پاڼه

## افزایش بیش از حد سپرده ها و ورشکستگی بانک سیلیکان ویلی

ص ۲

## Raising the Bar: DAB's Efforts to Rein in Unregulated FXDs and MSPs

P 30



# فعالیت های غیر مجاز شرکت های صرافی و خدمات پولی

شرکت های صرافی و خدمات پولی نمیتوانند فعالیت های ذیل را انجام دهند:

۱– قبول سپرده (امانت) مشتریان؛

۲– اعطای قروض به مشتریان؛

۳– فراهم سازی عملیات سیستم پرداخت، ارائه خدمات اسناد بهادار و استفاده از سیستم های انتقال اسناد بهادار، طبق قانون د افغانستان بانک

۴– همچنان، استفاده از دفاتر ثبت غیر رسمی خلاف رهنمودها و معیارهای تعیین شده د افغانستان بانک برای ثبت معلومات مشتریان؛

۵– شرکت های صرافی و خدمات پولی نمی توانند از طریق اشخاص بدون جواز در داخل کشور به فعالیت های صرافی و خدمات پولی مبادرت ورزند



# بانک

## لړلـــــــیک / فهرست


| لړلـــــــیک / فهرست | مخ |
|---|---|
| شمال ته د افغانستان بانک د مشرتابه سفر: د مالي او بانکي سکتور پیاوړتیا،... | ۱ |
| افزایش بیش از حد سپرده ها و ورشکستگی بانک سیلیکان ویلی | ۲ |
| د نړیوال بانک له عینکو د افغانستان اقتصادي پرمختګونه، او د پرمختللي اقتصاد... | ۵ |
| تدویر جلسه شورای عالی د افغانستان بانک | ۷ |
| د اسلامي بانکوالۍ مهمې اصطلاحګانې | ۸ |
| پول جدید، چالش های مندرس شدن زود هنگام و مسوولیت شهروندان | ۱۱ |
| بېوزلي او د کمولو لارې چارې يې | ۱۴ |
| اقتصادي خبرونه | ۱۹ |
| انفلاسیون چگونه به وجود می آید | ۲۱ |
| امضای تفاهم نامه همکاری با اداره محاسبه و تفتیش مؤسسات مالی اسلامی | ۲۴ |
| DAB Governor Meets with UN Special Coordinator for Afghanistan | ۲۴ |
| Raising the Bar: DAB's Efforts to Rein in Unregulated Nonbanking Institutions | ۳۰ |
| The acting Governor of DAB  Met with Chinese Ambassador | ۳۱ |



د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد، مفتي عبدالله آخندزاده او خواجه عصمت الله ځلاند

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسئول مدیر: انور الله حیات

خبریالان: سید خالد خالقیار او عبدالحفیظ شاهین

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوټوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسؤل: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه



پته: د افغانستان بانک

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af



د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube | twitter.com/AFGCentralbank | www.facebook.com/AFGCentralbank

# شمال زون ته د افغانستان بانک د مشرتابه سفر: د مالي او بانکي سکتور پیاوړتیا، ورکشاپونه او ګډې هڅې

د هېواد مرکزي بانک په توګه د افغانستان بانک تل هڅه کوي ترڅو د معقولو او غوره پولي سیاستونو په پلي کولو سربېره د بانکي سکتور بېلابېلې برخې پیاوړې او افغانستان د یو باثباته بانکي سکتور څخه برخمن کړي. د افغانستان بانک د خپلو نورو هلو ځلو سره سره، د بانکي  سکتور ثبات، د اسلامي بانکوالۍ پراختیا او د غیر بانکي مالي موسسو د فعالیتونو میکانیزه کولو په موخه د بانک په مختلفو نمایندګیو کې ولایتي ورکشاپونه هم په پام کې نیولي دي چې د دې لړۍ په دوام، د ۱۴۰۲ مالي کال لومړی سفر د افغانستان له شمالي ولایتونو څخه پیل شو. دا ورکشاپونه به د افغانستان بانک په نورو زونونو کې هم په نوبتي ډول ترسره شي او په ټولیزه توګه به په مالي او بانکي برخو کې د ښه والي او د صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالیتونو د میکانیزه کولو په برخه کې د ادارو همغږي او د خلکو ملاتړ تر لاسه کړي چې ان شاءالله دا چاره به د بانکي سکتور د عادي کېدو او اجراآتو په برخه کې د ښه والي رامنځته کولو لامل شي.

د هېواد شمال ته د افغانستان بانک د مشرتابه د سفر په ترځ کې د ۱۴۴۴ کال د شوال المکرم په ۲۷ نېټه د بلخ ولایت په مزارشریف ښار کې د بانک په شمال زون کې او  د شوال المکرم په ۳۰ نېټه د افغانستان بانک په شمال شرق زون ( کندز) کې د بانکي سکتور پیاوړتیا، د اسلامي بانکوالۍ پراختیا او د غیر بانکي مالي موسسو د فعالیتونو د میکانیزه کولو په برخه کې د همغږۍ او ګډو هڅو په موخه بېل بېل ورکشاپونه جوړ شول.

د شمال زون په ورکشاپ کې د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس سربېره، د بلخ ولایت مرستیال، د پوهنې، لوړو زده کړو، ارشاد حج او اوقافو، ګمرکونو، او مستوفیت د ریاستونو، سوداګرو، قومي متنفذینو، صرافانو او د مالي خدمتونو د عرضه کوونکو استازو ګډون کړی وو.

په دې غونډه کې د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي الحاج هدایت الله بدري د پولي سیاستونو د اغېزناک تطبیق، د اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ساتلو او د انفلاسیون د کچې کنټرولولو په برخه کې د افغانستان بانک د لاسته راوړنو په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې لویو موخو ته د رسېدو لپاره په کار ده چې د امارتي ادارو تر منځ غوره همغږي موجوده وي او نن د همدې موخې لپاره را ټول شوي یو.

ښاغلي بدري د افغانۍ ارزښت ته په اشارې ووېل چې د افغانۍ ترویج او په داخلي راکړو ورکړو کې له هغې څخه سمه ګټه اخستنه د خلکو ملاتړ او ګډو هڅو ته اړتیا لري. نوموړي له خلکو څخه وغوښتل چې په دې برخه کې د افغانستان بانک سره پوره همکاري وکړي.

همدارز، ښاغلي بدري په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ د ودې او پراختیا لپاره د افغانستان بانک له ژمنتیا څخه یادونه وکړه او زیاته یې کړه چې اسلامي بانکوالي په افغانستان کې یوه اړتیا ده او موږ به په دې برخه کې له هر راز هلو ځلو څخه ډډه ونکړو.

په دې غونډه کې د بانکوالۍ سکتور په برخه کې د پرمختګونو، لاسته راوړنو او د دې سکتور د ښه والي لپاره راتلونکو پلانونو، د صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالیتونو میکانیزه کولو او په هېواد کې د اسلامي بانکوالۍ د پراختیا په هکله ګټور پریزینټیشنونه وړاندې، هر اړخیز معلومات شریک شول او د غونډې له ګډونوالو سره د افغانستان بانک د همکاریو د کچې په اړه بحث او د نظرونو تبادله وشوه.

باید ووېل شي چې د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي صدیق الله خالد او ورسره د افغانستان بانک د ریاست د دفتر مل پلاوي هم په دې غونډه کې ګډون درلود.

پاتې د نه وي چې د افغانستان بانک په شمال زون کې د مزار شریف، میمنې، شبرغان، سرپل، سمنګان، حیرتان او آقینې نمایندګۍ او په شمال شرق زون کې د کندز، سمنګان، بغلان، تخار، بدخشان او شیرخان بندر نمایندګۍ شاملې دي.



# افزایش بیش از حد سپرده ها و ورشکستگی بانک سیلیکان ویلی

**ترجمه: توحید الله صافی، عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک**

سپرده‌ها از مدتها بدینسو منبع پایدار و مطمئن برای تامین منابع مالی بانک ها محسوب می شود اما در ارتباط با سیلیکان ویلی بانک این امر برعکس به نظر می رسد.

به تاریخ ۹ مارچ، سیلیکان ویلی بانک اولین بانک از سلسله بانک های منطقه ای بود که با برداشت گستردهٔ سپرده های بدون بیمه مواجه و در نهایت ورشکسته شد. علاوه بر بعضی از موارد خاص از جمله عدم توانایی در مدیریت خطر، اتکای بیش از حد به سپرده های شرکت های تکنالوژی و سرمایه‌گذاری‌های بزرگ در اوراق بهادار دراز مدت، چه چیزی دیگری می‌توانیم از این رویداد بیاموزیم؟ تحقیقات

اخیر نشان می‌دهد که افزایش وضعیت حساس بانکی می تواند مستقیماً با افزایش بیش از حد پس‌انداز جهانی ارتباط داشته باشد، که در ذات خود به "افزایش بیش از حد سپرده" در ایالات متحده مبدل گردیده است.

## افزایش بی سابقهٔ سپرده ها

به نظر بن برنانکه، رئیس پیشین فدرال ریزرف بانک ایالات متحده امریکا، اصطلاح "پس انداز بیش از حد" عبارت از افزایش پس انداز در سطح جهان است. طی دو یا سه دهه گذشته، پس‌اندازهای جهانی احتمالاً نسبت به ذخیرهٔ اوراق بهادار مصئون و نقدی سریعتر افزایش یافته که یکی از عواملی آن پیشرفت اقتصادهای نوظهور مانند چین است. اما عوامل داخلی در ایالات متحده نیز نقش مهمی را ایفا کرده اند که نخستین عامل آن، افزایش نابرابری ثروت است که به معنای داشتن پس انداز های بیشتر توسط تعداد کمتری از سرمایه گذاران می باشد. عامل دوم آن، رونق پس‌انداز شرکت‌ها، به ویژه شرکت هایی مانند تکنالوژی که اتکای زیاد به دارایی‌های ناملموس دارند.

پس‌اندازهای داخلی افراد و شرکت‌های ثروتمند برخلاف پس اندازهای سرمایه گذاران در اقتصاد های نوظهور، احتمالاً تا حد زیاد در بانکها نگهداری میشود که اطلاعات جمع آوری شده در این عرصه یک تفاوت قابل توجه را نشان میدهد.

در ایالات متحده، سهم سپرده ها نسبت به اقتصاد کلی برای چندین دهه پس از جنگ جهانی دوم نسبتاً ثابت باقی مانده است که حدود ۴۰ تا ۵۰ درصد از تولیدات ناخالص داخلی (GDP) را تشکیل میدهد. با این حال، سپرده ها در دو دهه گذشته رشد چشمگیری داشته است که بیش از ۷۵ درصد سهم تولیدات ناخالص داخلی ایالات متحده را احتوا میکند. این افزایش بیش از حد در تاریخ ایالات متحده بی سابقه بوده که علت آن افزایش وسیع سپرده های بی بیمه است یعنی میزان سپرده ها بالاتر از حد تعیین شده ۲۵۰،۰۰۰ دالر امریکایی توسط اداره فدرالی بیمه سپرده ها (FDIC) می باشد. سپرده های بی بیمه در حال حاضر حدود ۵۰ درصد از مجموع سپرده ها را تشکیل میدهد.

اطلاعات پراکنده این واقعیت را تایید می نماید که چنین افزایش سپرده تنها شکل دیگری از افزایش پس انداز می باشد. این بدین معنی است که پس از گذشت سال ها، سپرده های بانک های مستقر در ایالت های مختلف ایالات متحده که در آن نابرابری ثروت بالا و در حال رونق بود، و همچنین در مناطقی که در آنجا شرکت های ثروتمند فعالیت بیشتری دارد، به طور قابل توجه سریعتر رشد کردند.

## عامل جدیدی برای ضعف بانک ها

چرا افزایش بیش از حد سپرده‌ها می تواند حاکی از بی ثباتی مالی بیشتر باشد؟ اول، به این دلیل که سهم بیشتری از سپرده ها بدون بیمه در بانکها نگهداری میشود، که در نتیجه قابل فرار بیشتر بوده و در معرض خطر زیاد برداشت سپرده ها توسط مشتریان آن قرار دارند. دلیل دوم این که سپرده های بزرگ معمولاً توسط سرمایه گذاران کلان و مجرب نگهداری می‌شوند. این سرمایه گذاران در مقابل اطلاعات منفی یا به تفاوت های کوچک در بازده واکنش سریعتر نشان می دهند، که احتمالاً در شرایط بالا رفتن نرخ ها و افزایش رقابت بین بانک ها و صندوق های سرمایه گذاری ایجاد می گردد.

بانک‌های امریکا که در معرض نابرابری ثروت محلی قرار

دارند، با کاهش قابل توجه در ارزش گذاری بازار مواجه شدند ارتباط بین علت های اساسی افزایش پس اندازها و بی ثباتی مالی را می توان با دیدن بازده بازار سهام سایر بانک های ایالات متحده، به استثنای سیلیکان ویلی بانک که به تاریخ ۹ مارچ ورشکست شد، مشاهده کرد. بانک‌های ایالات متحده که در معرض نابرابری ثروت محلی قرار دارند، یعنی بانک‌های ایالت‌هایی که نابرابری ثروت بیشتر در آنجا وجود دارد، به طور قابل توجه با بیشترین کاهش در ارزش گذاری بازار (به طور اوسط حدود ۰.۰۳ درصد) روبرو شدند.

در عین حال، بانکهای که در مناطقی مختلف ایالت های امریکا که در آنجا شرکت‌های غیر ملموس (که احتمال انباشت نقدینگی بیشتری دارند) نیز حضور داشته اند، با کاهش قیمت سهام بیشتری مواجه شده اند. این یافته با این دیدگاه که افزایش بیش از حد پس انداز خود عامل قابل توجه در بی ثباتی بانکی است، مطابقت دارد.

## تاثیرات توزیع مجدد بیمه سپرده

این یافته ها سوالاتی را در مورد بیمه سپرده و اثرات بعدی آن ایجاد می کند. بلافاصله پس از اینکه سیلیکان ویلی بانک با برداشت سپرده‌ها توسط مشتریان مواجه شد، پاسخ اداره فدرالی بیمه سپرده ها این بود که تمام سپرده‌های بانک را به طور کامل بیمه نماید.

اولین نتیجه ای که از تحلیل فوق بدست می آید این است که چنین گسترش بیمه سپرده در نهایت به عنوان یک بیمه عمومی برای افراد و شرکت های ثروتمند عمل می کند. بنابراین، هر گونه تمدید بیشتر محدودیت های بیمه سپرده در آینده باید با ارزیابی مناسب اثرات توزیع مجدد آن همراه باشد - موضوعی که تاکنون شواهد بسیار کمی در مورد آن وجود دارد.

سوال دیگر این است که آیا می‌توان سپرده‌های بزرگ بدون بیمه را همراه با سپرده‌های بیمه شده به شکل قابل اعتماد در بانک‌ها نگه داشت؟ مثال سیلیکان ویلی بانک به ما نشان می دهد که آنها می تواند در حقیقت مشکلات سرمایه گذاری مشترک را به وجود بیاورند، که مقامات بیمه سپرده را وادار به مداخله و ارایه مصونیت بیشتر برای سپرده های رسمی بدون بیمه می نمایند. یک سوال درست و قانونی این است که آیا سپرده‌های بزرگ— چه از خانواده های ثروتمند یا شرکت‌های دارای پول نقد باشد- به طور موثرتری از طریق محصولات پس‌انداز خارج از بانک‌ها مدیریت می‌شوند؟

به همین ترتیب، آنها از تضمین های دولتی که لزوما برای سپرده گذاران کوچکتر هزینه دارد، بهره مند نه خواهند شد. بیمه سپرده پس از آن امنیت قابل اعتبار را تنها برای افرادی که زیر سطح مشخصی از ثروت قرار دارند، فراهم خواهد ساخت.

منابع مأخذ:

Vuillemey, G. (2023). Is the ‘deposit glut’ a root cause of recent bank failures. The Banker




# د نړیوال بانک له عینکو د افغانستان اقتصادي پرمختګونه، او د پرمختللي اقتصاد پر لور چټک ګامونه

د افغانستان اقتصاد په تېرو دوو کلونو کې له ډېرو لوړو ژورو سره مخ وو خو دولت د خپلو غوره اقتصادي پالیسیو په مټ او ستونزو او ننګونو ته د موثرو حل لارو موندلو په برخه کې د پروخت اقدام کولو له لارې وکولای شول ترڅو د هېواد اقتصادي وضعیت له خرابېدو وژغوري او اقتصادي پرمختګ ته لاره نوره هم هواره کړي. په دې برخه کې د دولت کړنې او هڅې له هېوادوالو سره سره د نړیوالو پام هم ځان ته راګرځولای دی چې کولای شو دلته د نړیوال بانک یادونه وکړو.

نړیوال بانک په خپل وروستي راپور کې چې د ۲۰۲۳ کال په اپریل کې خپور شو، ویلي چې په افغانستان کې د خوراکي توکو او نفتي موادو بیې راټیټې شوي، د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانیو ارزښت ثابت پاتې شوی، د صادراتو اندازه د پام وړ زیاته شوې، د دولتي کارکوونکو معاش پر وخت ورکړل شوی او د ملي

عوایدو په کچه کې هم د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

دا هغه واقعیتونه دي چې افغانستان یې نن عملاً تجربه کوي او د دې برخو پرمختګونو د نړیوال بانک پام ځان ته را اړولی دی. د دې راپور په رڼا کې یادونه شوې ده چې دا مهال په افغانستان کې د انفلاسیون کچه را ټیټه شوې او ښیي چې د خوراکي توکو او نفتو بیې را ټیټې شوې دي، دا هغه واقعیت دی چې په بازارونو کې یې عملاً زمونږ درانه هېوادوال ویني او د پخوا په پرتله په دې برخه کې ډېر پرمختګونه رامنځته شوي دي.

د تېلو او ګازو بیې د پخوا په پرتله ډېرې را ټیټې شوي دي او د خوراکي موادو په بیو کې هم د پام وړ کموالی راغلی دی. دا په داسې حال کې ده چې د نړۍ په زیات شمېر هېوادونو او د افغانستان په ګاونډیو هېوادونو کې د خوراکي توکو او نفتي موادو بیې د پخوا په پرتله لوړې دي.

په دې راپور کې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د ارزښت ساتنې په اړه هم یادونه شوې ده، دا هم هغه لوی واقعیت دی چې هېڅوک پرې سترګې نه شي پټولای. د افغانستان بانک په تېرو دوه کالونو کې توانېدلی دی چې د افغانۍ له ارزښت څخه په ډېر ښه ډول ساتنه وکړي او اجازه ورنکړي چې په دې برخه کې حاد نوسانونه رامنځته شي.

د افغانستان بانک لخواد معقولو پولي سیاستونو تطبیق، په هېواد کې د یو شمېر ملي او نړیوالو پروژو پیل، صادراتي وده، د روڼتیا رامنځته کېدل، په سوداګریزو راکړو ورکړو کې د افغانۍ ترویج، په دولتي کچه د غیرضروري لګښتونو مخنیوی او سپما هغه عوامل دي چې د افغانۍ د ارزښت په ساتنه کې یې مرسته کړې ده.

د دې راپور په بله برخه کې د صادراتو د کچې له لوړېدو هم یادونه شوې ده، د افغانستان اسلامي امارت تر بیا حاکمیت وروسته دې برخې ته پوره پاملرنه شوې ده او د افغانستان د صادراتو په کچه کې د بل هر وخت په پرتله ډېروالی راغلی دی. صادراتي برخې ته پاملرنه هېواد ته د اسعارو د راتګ لامل کېږي او دا چاره کولای شي د افغانستان بانک سره د پولي سیاستونو په غوره تطبیق کې مرسته وکړي.

دولتي مامورینو ته د معاشونو پر وخت اداینه د دې راپور بله برخه تشکیلوي، دا هم یو ځرګند حقیقت دی چې اوسنی نظام توانېدلی دی چې د ټولو دولتي مامورینو معاشونه پر وخت اجرا او د هرې میاشتې په پای کې حسابونه جمع او را ټول کړي.

د معاشونو پر وخت اجرا په بازار کې وجوهو د غوره ګردښت لامل کېږي او دا چاره کولای شي چې له مامور سربېره په غیر مستقیم ډول خلکو ته د کاروبار د برابرېدو سبب وګرځي.

د ملي عوایدو د کچې لوړېدل هم هغه څه دي چې افغانستان یې د بل هر وخت په پرتله په ښه ډول تجربه کوي، د افغانستان اسلامي امارت تر فتحې وروسته او بیا تر نن ورځې پورې د هرې ورځې په تېرېدو سره د ملي عوایدو په کچه کې ډېروالی رامنځته کېدونکی دی.

دا په ګوته کوي چې په دې برخه کې روڼتیا زیاته شوې او د افغانستان اسلامي امارت د عوایدو د راټولونې اړوندې ادارې په پوره صداقت سره دا چاره تر سره کوي. د عوایدو په برخه کې د سیستمونو رامنځته کول او په دې برخه کې د روڼتیا او غوره مدیریت اصل په پام کې نیول هغه څه دي چې دا برخه پوره پیاوړې کولای شي.

حسیب الله نوري

د افغانستان بانک ویاند

# تدویر جلسه شورای عالی د افغانستان بانک

شورای عالی د افغانستان بانک که عالیترین مرجع تصمیم گیری این بانک است، بتاریخ ۴ شوال المکرم ۱۴۴۴ جلسه ای را پیرامون بحث و تبادل نظر و تصمیم گیری در قبال تطبیق سیاست های معقول پولی، استحکام سکتور بانکی، توسعه بانکداری اسلامی و تقویت سیستم های پرداخت و ایجاد سهولت ها به مشتریان سکتور بانکی برگزار نمود.

این جلسه تحت ریاست محترم الحاج هدایت الله بدری سرپرست د افغانستان بانک و با اشتراک حضوری و آنلاین اعضای این شورا تدویر یافت. در این جلسه ضمن بحث روی چگونگی اجراات د افغانستان بانک و تحقق برنامه های از قبل تعیین شده، وضعیت اقتصادی افغانستان، چگونگی تطبیق سیاست های پولی، استحکام سکتور بانکی، توسعه بانکداری اسلامی، ثبات نظام مالی کشور، تسریع روند دیجیتل سازی تادیات، ایجاد تسهیلات بانکی برای مردم و یک سلسله موضوعات اداری مرتبط به د افغانستان بانک بحث و تبادل نظر صورت گرفته و فیصله های لازم در روشنی احکام قانون بعمل آمد.

قابل یادآوریست که شورای عالی د افغانستان بانک در یک سال چهار بار تشکیل جلسه میدهد که جلسات آن به شکل ربعوار برگزار گردیده و روی موضوعات مختلف سیاست گذاری، طرح فعالیت های بانک، اجراآت و دستاوردها بحث و تبادل نظر صورت گرفته و فیصله های لازم در زمینه بهبود عملکرد د افغانستان بانک و نظام مالی و بانکی کشور بعمل می آید.





# د اسلامي بانکوالۍ مهمي اصطلاحګانې

د سنتي بانکوالۍ ترڅنګ اسلامي بانکوالۍ هم د يو اوږد مزل په وهلو سره د نړۍ په بانکي سيستم کې ځای خپل کړ او د پرمختګ په لور يې چټک ګامونه واخيستل. د نړۍ نورو اسلامي او غير اسلامي هيوادونو په څېر، په افغانستان کې هم اسلامي بانکوالۍ ته لاره پرانستل شوې ده او په سنتي بانکونو کې د اسلامي بانکوالۍ دريڅو سربيره، په هېواد کې بشپړ اسلامي بانکونو هم د اسلامي شريعت په رڼا کې خپل فعاليتونه پيل کړي دي. د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ اهميت ته په کتو دې برخې ته ډيره پاملرنه لري او غواړي چې د هيواد د مالي او بانکي سکتور وضعيت په پام کې نيولو سره په اوږدمهال کې سنتي بانکونه په بشپړ اسلامي بانکونو بدل شي. دا پروسه به د هيواد د اقتصادي شرايطو په رڼا کې په دوامداره توګه روانه وي. دې موخې ته د عمل جامې وراغوستلو لپاره د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ آمريت متې را بډ وهلي او د سوداګريزو بانکونو استازو او د شرعي څارنې بورډ په همکارۍ بېلابېل پروګرامونه په پام کې نيول شوي دي چې په دې کې د اسلامي بانکوالۍ

قوانینو او مقررو ترڅنګ په ډول ډول کړنلارو کار روان دی. دا چې اسلامي بانکوالۍ ته اوس له بل هر وخت څخه زیاته توجه کیږي نو اړینه ده چې د اسلامي بانکوالۍ د اصطلاحاتو په تړاو د خلکو ذهنونه لا روښانه شي. په دې مقاله کې د اسلامي بانکوالۍ په ځینو دود شوو اصطلاحاتو، چې په لاندې ډول دي، رڼا اچول شوې ده.

- **تکافل:** د اسلامی بیمې سیستم چې د متقابلې مرستې او همکارۍ پر اصولو بنا دی.
- **تورق:** یو ډول تمویل دی چې په مټ یې یو پیرودونکی یو توکی په پور اخلي او سمدلاسه یې د نغدو پیسو په بدل کې په دریم کس پلوري.
- **مرابحه:** په دې معامله کې پیرودونکی د خپل سوداګریز فعالیت د پیل یا پراختیا لپاره له بانک سره د خپل اړتیا وړ توکي شریکوي او ورڅخه غوښتنه کوي. بانک د پیرودونکي د اړتیا وړ توکي پېري او بیا یې د ټاکل شوي ګټې په ورزیاتولو سره پر پیرودونکي باندې پلوري. پیرودونکی په نغدي بڼه، د ټاکلې مودې په پای کې په یو ځل سره یا هم د قسطونو په توګه د بانک پیسې چې د تمویل اصلي مبلغ (د پېرل شوي توکي بیه) او د تمویل ګټه (د توکي پر بیه باندې ورزیاته شوې ګټه) رانغاړي، پر ټاکلي وخت باندې بېرته اداء کوي.
- **صکوک:** صکوک هغه مالي سندونه یا وسایل دي چې د اسلامي شریعت او اصولو په رڼا کې ترتیب شوي وي. د صکوکو د صادرولو په برخه کې یو صادروونکی (لکه یو شرکت یا حکومت) په پانګوالو د صکوک سندونه پلوري، پانګوال د ځانګړو شتمنیو یا پروژې په ملکیت کې د ونډې ترلاسه کولو په بدل کې مالي وجوه برابروي. په صکوکو کې د پانګې څخه ترلاسه شوې ګټه د شتمنیو یا پروژې څخه ترلاسه شوو عوایدو له لارې منځته راځي نه دا چې د دودیزو بانډونو په څېر د سود د تادیې له لارې منځته راشي. د افغانستان د صکوکو قانون مسوده صکوک داسې تعریفوي: "صکوک هغه سندونه دي چې مساوي ارزښت لري او د داعیانو په ملکیت، ګټو او خدمتونو کې او یا د ځانګړو پروژو په شتمنۍ کې د مشاع د متناسبو برخو (حصو) ښکارندویي کوي چې درلودونکی هغه د حقونو او وجیبو مستحق کوي." صکوک له شریعت سره مطابقت لري ځکه چې د سود، غرر، او قمار د حراموالي اصولو ته غاړه ږدي. صکوک په ټوله نړۍ کې د اسلامي اقتصاد یوه مشهوره برخه ګرځیدلې ده چې په ډېرې چټکۍ سره مخ پر وړاندې درومي.
- **اجاره:** هغې هوکړې ته وایي چې پر بنسټ یې د یوې شتمنۍ لکه ځمکې، ودانۍ، ماشین او داسې نورو خاوند بل شخص ته د ټاکلې مودې لپاره د ټاکلې بیې (کرایې) په بدل کې د خپلې شتمنۍ د کارولو حق ورکوي. په اسلامي بانکوالۍ کې اجاره د یوې شتمنۍ یا توکي په کرایه ورکولو ته وایي چې له لارې یې بانک د پیرودونکي د اړتیا وړ توکي د یوې ټاکلې مودې لپاره هغه ته په کرایه ورکوي.
- **مضاربه:** هغه تړون ته وایي چې د دوو لورو ترمنځ ترسره کیږي چې د

ټرون یو لوری (د پانګې خاوند یا رب المال) خپله پانګه د کار لپاره برابروي او بل لوری (مضارب) د سوداګریزو عملیاتو لپاره خپل کاري ځواک او مهارت په کار اچوي. د دواړو لورو ترمنځ ګټه د مخکنۍ هوکړې پر بنسټ وېشل کېږي. زیان په هغه صورت کې چې قصدي او یا د مضارب د غفلت په پایله کې رامنځ ته شوی نه وي، د پانګې د خاوند یا رب المال په غاړه وي او مضارب د زیان په صورت کې یوازې د وخت له پلوه زیان کوي.

- **مشارکه (شراکت):** هغه ټرون ته وایي چې پکې اشخاص د بېلابېلو پانګو یا یوشان پانګو په درلودلو سره د یو اقتصادي فعالیت په ګټه یا زیان کې له یو بل سره شریکیږي. د مشارکې په برخه کې، بانک او پیرودونکی له ګډې پانګې سره په کار پیل کوي. په مشارکه کې ګټه د مخکنۍ هوکړې پر بنسټ او زیان د هر شریک د پانګې د کچې په تناسب وېشل کېږي.
- **ودیعه:** ودیعه یو ډول امانت ایښودلو ته وایي چې یو شخص خپلې پیسې له ټکټانې یا ګټې پرته د ساتلو لپاره په اسلامي بانک کې د امانت په توګه ږدي. هرکله چې پیرودونکی وغواړي خپلې پیسې له بانک څخه اخیستلای شي. بانک د پیرودونکي لخوا د اجازې په صورت کې کولای شي له دې امانتونو څخه کار واخلي.
- **استصناع:** د اسلامي بانکوالۍ یو ډول ټرون دی چې بانک د پیرودونکي د اړتیا وړ توکي د هغه د ټاکل شوو ځانګړتیاوو سره سم برابروي. کله چې د پام وړ توکي چمتو شي، بانک یې د ټرون له مخې له ټاکل شوې بیې سره سم پر پیرودونکي پلوري. بانکونه کولای شي د استصناع له ټرون سره سم د تولید او صنعت په برخو کې پیرودونکي ته اړینې اسانتیاوې برابرې کړي
- **مزارعه (کرنیز تمویل):** مزارعه د ځمکې د خاوند او د کارګر ترمنځ د شراکت ټرون ته وایي چې ترلاسه شوې حلاله ګټه د مخکنۍ ټاکل شوې سلنې پر بنسټ د دواړو خواوو ترمنځ وېشل کېږي. د دې ټرون پر بنسټ، بانک د ټاکلې مودې لپاره کرنیزه ځمکه د کښت لپاره د پیرودونکي په واک کې ورکوي او یا دا چې بانک د پیرودونکي پر ځمکه پانګونه کوي او د کښت په برخه کې له هغه سره مرسته کوي چې په دې صورت کې ترلاسه شوې ګټه هم د هوکړې پر بنسټ د دواړو خواوو ترمنځ وېشل کېږي.
- **سلم:** د پلور یو ډول ټرون دی چې پېرونکی پکې پلورنکي ته د ټرون پر مهال د توکو بشپړ قیمت مخکې له مخکې تادیه کوي، او پلورونکي موافقه کوي چې پر راتلونکې ټاکل شوې نېټه به پېرونکي ته توکي په واک کې ورکوي.

**لیکنه: سید خالد خالقیار**

---

سرچینې:

۱-مال او پیسې کتاب لیکوال مطیع الله نوشیر سروری د چاپ کال ۱۳۹۵ / ۲- مالیې وزارت د صکوکو د قانون مسوده د چاپ کال۱۴۴۴ / ۳-مالي پوهه لیکوال میر شکیب میر د چاپ کال۱۳۹۹

۴- اوراق-قرضه اسلامی صکوک وانواع آن/https://bashgah.com/blog

# پول جدید،

## چالش های مندرس شدن زود هنگام و مسئولیت شهروندان







نویسنده: محمد کاظم سروری
مدیر ارتباط رسانه ای، د افغانستان بانک

پول ملی عنصر مهم در هر کشور محسوب میگردد. مسئولان پولی هر کشور بر اساس مولفه های اقتصادی، به سنجش میزان پولی که در جامعه وجود دارد نیازمند می باشند که این مسئولیت بیشتر به بخش سیاست های پولی و انطباق آن با رشد اقتصادی ربط می گیرد. مجریان سیاست های پولی تحلیل می کنند که میزان پول در گردش اقتصادی، چه مقدار نقدینگی را در کشور ایجاد خواهد کرد، یعنی در چه عددی بخش حقیقی بازار به میزان پول و حجم آن واکنش نشان میدهد؛ طوری که میزان نقدینگی در بازار کمتر از میزان مورد نیاز بازار باشد، امکان دارد تولید، درآمد و اشتغال، دچار افت شود. برعکس افزایش نقدینگی بیش از حد مورد نیاز بازار اقتصاد، ممکن است به رشد سطح عمومی قیمت ها (تورم) منجر شود. بناً پول ابزار نیرومندی در اقتصاد به شما رفته و تاثیرات قابل توجهی بر ثبات اقتصادی کشور و از آن طریق بر زندگی اجتماعی افراد دارد. در کشور عزیز ما د افغانستان بانک مسولیت چاپ و انتشار پول را در اختیار داشته و حسب نیاز

با در نظر داشت واقعیت های اقتصادی کشور، این مسئولیت خود را ادا می نماید. اما بانکهای مرکزی گاه گاهی مجبور می شوند تا روند چاپ و نشر پول را بر خلاف تخمین ها، آغاز نمایند و آن زمانی اتفاق می افتد که عمر پول در تناسب به میزان معین استفاده آن ، زودتر از موعد معین فرسوده شود. این فرسایش زودهنگام ناشی از عدم دقت استفاده کنندگان حین استفاده در داد و ستد های روزانه میباشد.

طوری که چندی قبل د افغانستان بانک به منظور جمع آوری بانک نوت های مندرس (۱۰ و ۲۰ )افغانی انواعیه های ده و بیست را جمع آوری و معاوضه نمود. این در حالیست که اکثرا این انواعیه بانکنوت ها به انتهای عمر تخمینی شان نرسیده است، در حقیقت بانک مرکزی این اقدام را بمنظور رفع مشکل مردم از ناحیه موجودیت پول های مندرس انجام داد.

اکنون که پول جدید در بازار عرضه شده است، مسئولیت بعدی حفظ و نگهداشت بهتر آن بدوش استفاده کننده پول که طبعاً شهروندان کشور است، میباشد

حرمت پول ملی مسئولیت و وظیفه همگانی بوده و سهم هر یک از شهروندان کشور واضح است که نباید، در حفظ و نگهداشت پول ملی بی توجه باشند. پول ملی، مانند نمادی از هویت و استقلال یک ملت و یک کشور است. حفظ و حرمت به جایگاه آن وظیفه‌ای بزرگ برای همه است. نباید اجازه داد تا با بی دقتی ما در نگهداشت درست آن، رنگ ریختن، آلوده نمودن آن با ماده های چسبناک و خط خط نمودن آن باعث فرسایش پول افغانی شده و برای چاپ آن پول هنگفتی که میتوان در پروژه های عام المنفعه از آن استفاده کرد، پرداخت شود.

عوامل متعددی در فرسایش و مندرس شدن پول ملی، وجود دارد اما اساسی ترین مواردی که باید به آن توجه صورت بگیرد را میتوان به طور ذیل بیان نمود:

۱- استفاده بیشتر از پول نقد در بازار های کشور: علاقه عمومی به معاملات نقدی عاملیست که پول افغانی زودتر از میعاد تعیین شده آن فرسوده میگردد، این میزان در بانک نوت های انواعیه ۱۰، ۲۰، ۵۰ و ۱۰۰ افغانی به دلیل استفاده بیشتر در داد و ستد های خورد و کوچک ، بیشتر میباشد، زیرا در افغانستان از کارت های اعتباری کمتر استفاده صورت میگیرد. از اینکه بانکها مکان مصون برای حفظ سپرده و پس انداز های شماست، پول خود را در بانکها به امانت بگذارید تا از فرسوده شدن آن جلوگیری شود.

۲- نگهداری پول در مکان های مرطوب: اغلب پول را در مکان های که مرطوب بوده و یا در زیر فرش، آلماری و چت خانه نگهداری می نمایند، این مکان ها معمولاً مرطوب بوده و رطوبت باعث فرسوده شدن پول می گردد.

۳- قات نمودن پول: اطفال، جوانان و اکثراً خانم ها علاقه دارند تا پول را بشکل فشرده بدست گرفته و یا قات نموده و با خود حمل نمایند، افزایش خطوط قات شده باعث میشود که در اثر استفاده ، به مرور زمان، تغییر در شکل پول بمیان بیاید.

۴- یادداشت برداری در پول: شما توجه نموده باشید که شماری از افراد برای یادداشت های کوچک مانند شماره تماس و یا اسم فردی، روی بانکنوت یادداشت می نویسند، این یادداشت ها نه تنها که باعث بمیان آمدن فرسودگی زودرس در پول گردیده بل شکل ظاهری پول را نیز تغییر میدهد که در نتیجه از گردش باز می ماند.

۵- رنگ ریختن روی پول: بیشتر از پول های افغانی به دلیل ریختن رنگ، مایع چسبناک، خینه و سیاهی، شکل ظاهری خود را کاملا از دست داده و به دلیل رطوبت زودتر از حد انتظار شما، پاره شده که در نهایت قابل استفاده نمیباشد، میزان این نوع پول ها مندرس به دلیل بی دقتی شماری از

هموطنان که در مستری خانه ها و تیل فروشی ها مصروف فعالیت اند، بیشتر است.

۶- رسامی روی پول: اکثراً والدین پول افغانی در انواعیه های ۱۰ تا ۵۰ افغانی را به دسترس اطفال قرار داده و آنها روی پول رسامی می نمایند، گاهی اطفال علاقه دارد تا اثر از خود روی پول بشکل یادگاری بجا بگذارد، این رسامی در کوتاه نمودن عمر پول و مندرس شدن زودهنگام آن، بیشتر می افزاید.

چه باید کرد؟

به منظور جلوگیری از زیان های ناشی از چاپ مجدد پول و جلوگیری از هزینه های بی مورد چاپ مجدد، به توصیه های حفظ و نگهداشت پول توجه نموده موارد حفاظتی پول را در نظر داشته و منحیث فرد مسئول مسئولیت خود دانسته تا به آنانی که در این زمینه توجه کمتر می نمایند، راهنمایی های لازم نموده و متوجه مسئولیت شان نماییم . ما میدانیم که نگهداری درست پول افغانی و جلوگیری از کهنه شدن زود هنگام آن وظیفه ملی هر شهروند میباشد که در صورت عدم نگهداری درست پولهای کاغذی، در زمان کمتر از بین میروند.

منحیث یک شهروند مسئول، باید نکات ذیل را بمنظور حفاظت و نگهداری درست از پول افغانی در نظر داشت.

۱- رایج ساختن بکسک جیبی مخصوص پول : استفاده از بکس جیبی برای هر فرد توصیه میشود، این وسیله می تواند در افزایش عمر پول کمک نموده و از مندرس شدن و قات شدن بی مورد آن، جلوگیری نماید

۲- قات نکردن پول: به فامیل و بستگان خویش توصیه نمایید که از قات نمودن پول و در مشت فشردن پول حین استفاده در داد و ستد های روزانه اجتناب نمایند، قات نمودن پول باعث کاهش عمر تخمینی پول میگردد.

۳- جلوگیری از تماس پول با اشیای دیگری در جیب: از تماس پول با اشیای برنده و تیز در جیب و سایر مکان ها، جلوگیری نمایید و در این خصوص دقت بیشتر نمائید.

۴- عدم نوشتن یادداشت روی پول: به فامیل و بستگان برسانید که پول وسیله مبادله بوده و نه کتابچه یادداشت و یا رسامی، رعایت مسئولیت در قبال پول ملی و اجتناب از مواردی که باعث کاهش و یا از دوران خارج نمودن پول می گردد، نمایانگر فرهنگ بلند ما میباشد.

۵- چُملک نه نمودن و پاره نکردن آن: به اطفال و نوجوانان اهمیت استفاده از پول ملی و کاربرد آنرا تفهیم نمایید، زیرا اطفال نازنین نمیدانند که چاپ مجدد هر پول افغانی هزینه بر بوده و میتواند از مقدار هزینه های بی مورد، روی اعمار و بازسازی کشور به مصرف رساند تا آینده کشور همچنان درخشان تر گردد.

۶- گرفتن پول با دستان پاک: کوشش گردد پول با دستان پاک گرفته شود، از تماس با دستان چرب و آلوده اجتناب نمائید، چربی و ناپاکی دستان عامل اصلی مندرس شدن پول و فرسوده شدن آن میباشد.

۷- دور نگهداشتن پول از دسترس اطفال: اطفال در قسمت پول بی توجه میباشند، نهایت دقت شود تا پول را از دسترس اطفال دور نگهداشت و اجازه نداد که اطفال نازنین با پول ملی، بازی نمایند. شما میتوانید، اهمیت و استفاده از پول ملی را به اطفال خود بیاموزانید.

موارد فوق میتواند در تداوم عمر پول ملی کمک نماید، لازم است تا هر فرد کشور در این راستا توجه نموده و تلاش های پیگیر نماید زیرا هر شهروند مسول میداند که پول ملی هویت و اقتدار ملی کشور است، ما باید حفظ و نگهداشت آن را به مثابه یک فرهنگ ملی پنداشته و در دادو ستد های روزانه خویش چه در سطح خُرد و چه در سطح بزرگ، در کنار استفاده از آن، روی حفظ و نگهداشت آن توجه بیشتر نماییم.



# بیوزلي او د کمولو لارې چارې

د ټولو اقتصادي فعالیتونو موخه، چې وګړي یې ترسره کوي، د یو هوسا او آرامه ژوند برابرول او له بېوزلۍ څخه ځان ژغورل دي. هېڅوک نه غواړي چې په بېوزلۍ کې ژوند وکړي. نو د دې لپاره چې وګړي هوسا او آرامه ژوند ولري په بېلا بېلو اقتصادي فعالیتونو لاس پورې کوي. بیا هم په ډېرو هېوادونو کې وګړي د بېوزلۍ کرښې لاندې ژوند کوي. بېوزلي د هر هېواد د شرایطو په پام کې نیولو سره توپیر کوي او هر هېواد د خپلو شرایطو په نظر کې نیولو سره د

بېوزلی کمولو لپاره هلې ځلې کوي. د ځینو هېوادونو وګړي د مطلقې بېوزلی او د ځینو وګړي د نسبي بېوزلی تر کربښې لاندې ژوند تېروي چې بېلابېل عوامل يې سبب بلل کيږي. په دې لیکنه کې د بېوزلی په ډولونو او همدارنګه د بېوزلی په هغو لارو چارو چې د بېوزلی په کمولو کې مرسته کوي، بحث ترسره کيږي.

**بېوزلي :** که څه هم د بېوزلی لپاره ګڼ تعریفونه شتون لري خو په ټولنه کې بېوزلي هغه حالت دی، چې د يو کس عايد د هغه د ژوندانه د لومړنيو بنسټيزو اړتياوو (خوراک،څښاک،روغتيا، سرپناه،کالیو او کور) د رفع کولو لپاره بسنه ونه کړي. يا په بل عبارت بېوزلي د هوسایني په برخه کې محروميت دی، چې ډېر اړخونه لري،لکه ټيټ عايد او د ژوند د بقا لپاره د اړينو لومړنيو توکو او خدماتو په ترلاسه کولو کې پاتې راتلل . همدارنګه روغتيايي خدماتو ته نه لاسرسی ،د کافي اندازه فزيکي امنيت نه شتون او د ژوند د سطحې د ښه کولو لپاره په کافي ډول د ظرفيتونو او فرصتونو نه شتون هم د بېوزلی نښې دي. د نړی ډېری اقتصاد پوهان په دې اند دي چې بې وزله کورنی د خپل عايد ۱/۳ برخه په خوراکي توکو مصرفوي . که چېرې يو شخص د ژوند د يو ځانګړي معيار په پوره کولو کې پاتې راشي او هغه پوره نه کړي نو هغه بې وزله دی. بېوزلي د هر هېواد په اقتصادي ،سیاسي او ټولنیزو حالاتو پورې تړلي ده نو له دې امله کولای شو چې بېوزلي په دوه ډوله وويشو.

**د بېوزلی ډولونه :**

بېوزلي دوه ډولونه لري چې عبارت دي له : ۱- مطلقه بېوزلي ، ۲- نسبي بې وزلي

۱ – مطلقه بېوزلي : مطلقه بېوزلي چې د سختې بېوزلی په نامه هم ياديږي د بېوزلی هغه ډول دی چې يو کس د ژوند د لومړنيو بنسټيزو اړتياوو لکه خوراک ،پوښاک ، د څښاک پاکو اوبو، روغتيايي آسانتياوو، ښوونې او روزنې او سرپناه ته لاسرسی ونلري. په ۱۹۹۰ زيږديز کال کې د ورځې يو ډالر د مطلق فقر د اندازه کولو لپاره ټاکل شوې وو. يعنې هغه کس چې له يو ډالر څخه يې عايد لږ وي بې وزله ګڼل کېده،چې د وخت په تيرېدو سره په دې کچه کې زياتوالی راغلی دی يعني له ۱۹۹۳ څخه تر ۲۰۰۵ زيږديز کال پورې د پېرلو د ځواک په اساس د ورځې ۱.۰۸ ډالر ټاکل شوی وو. په ۲۰۰۸ زيږديز کال کې ۱.۲۵ امريکايي ډالره او په ۲۰۱۷ زیږدیز کال کې ۱.۹۰ امريکايي ډالره ټاکل شوی وو. چې د نړيوالې بېوزلی د کربښې لپاره دا مقدار په ۲۰۲۲ زيږديز کال د سپتمبر په مياشت کې ۲.۱۵ ډالره وټاکل شو. د دې معيار پر بنسټ هر هغه کس چې د ورځې له ۲.۱۵ ډالرو څخه کم عايد ولري، د مطلقې بې وزلې تر سیوري لاندې ژوند تيروي.

**۲ – نسبي بېوزلي :** نسبي بېوزلي د هر هېواد په اقتصادي او ټولنيزو شرايطو پورې اړه لري. يعني ځينې هېوادونه چې د ژوند کولو معيار پکې لوړ دی د يادو هېوادونو د وګړو اړتياوې او غوښتنې نسبت هغو هېوادونو ته چې د ژوند کولو معيار يې ټيټ دی ډېرې دي.

**د بېوزلی کربښه :** بېوزلي د هر هېواد د شرايطو په پام کې نيولو سره په هر هېواد کې شتون لري او د بېوزلی د کربښې په مټ روښانه کيږي. د بېوزلی کربښه هغه کربښه ده چې د هغې له مخې په يو هېواد کې د بېوزلی اندازه معلوميږي يعنې دا چې سلنې پر بنسټ د هېواد څومره وګړي په بېوزلی کې ژوند کوي. بېوزلي په دوه ميتودونو اندازه کولای شو.

**۱ – د مطلقې بېوزلی کچه**

**۲ – د نسبي بېوزلی کچه**

**۱ – د بېوزلی مطلقه کربښه:** دا د بېوزلی معلومولو هغه ميتود دی چې له مخې يې په ټولنه کې د هغو وګړو اندازه معلوميږي چې په مطلق ډول په غربت کې ژوند کوي. په ټوله کې د هغو وګړو اندازه معلوميږي چې د عوايدو کچه يې د ژوند د بنسټيزو اړتياوو د رفع کولو لپاره د اړينو عوايدو څخه څو ځله لږه وي او د خپلې فزيکي سلامتيا لپاره هم

اړینې سرچینې لکه په کافي اندازه خواړه او انرژي ونلري. هېره دې نه وي چې دغه حالت د نړۍ په هر ځای کې رامنځته کېدای شي.

**۲ – د نسبي بېوزلۍ کرښه :** د بېوزلۍ نسبي کرښه چې په بېلابېلو هېوادونو یا سیمو کې د کورنیو او انفرادي وګړو د عوایدو نسبتاً ټیټه کچه ده ،چې د ژوند د بنسټیزو اړتیاوو (خوراک،پوښاک،د اوسیدو ځای او داسې نورو ) د ترلاسه کولو لپاره اړین وي او دا اړتیاوې د هېوادونو د اقتصادي حالت په پام کې نیولو سره توپیر کوي. د بیلګې په توګه ایرکنډیشن درلودل کېدای شي په امریکا کې د خلکو اړینه اړتیا وي خو په افغانستان غوندې یو هېواد کې د ایرکنډیشن درلودل د خلکو له بنسټیزو اړتیاوو څخه نه ګڼل کیږي.

**د بېوزلۍ کچه :** د یو هېواد د نفوسو هغه نسبت،چې د بېوزلۍ کرښې لاندې ژوند کوي هغه ته د بېوزلۍ کچه وایې. د بیلګې په ډول په یو هېواد کې ۴۰ میلیونه وګړي ژوند کوي چې ۳۰ میلیونه وګړي یې د بېوزلۍ کرښې لاندې ژوند تېروي ، نو په دې توګه د بېوزلۍ کچه ۷۵ سلنه ده په یاد هېواد کې ۷۵ سلنه وګړي د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.

